د کرنيزې پرمختيا صندوق
صندوق وجهی انکشاف زراعتی
AGRICULTURAL DEVELOPMENT FUND



# مرابحه

مرابحه د خرڅلاو هغه تړون ته وايي؛ که چېرې يو شخص د يو ټاکلي جنس د اخيستلو اراده وکړي، بيا يو مالي نهاد ته دا جنس په ګوته کړي او هغه يې ورته واخلي، د تمام شوي قيمت او د معلومې ګټې د ټاکلو څخه وروسته يې په نوموړي شخص وپلوري، ياد شخص به مجموعي قيمت په ربعوار، مياشتني او يا هم په يو ځل صندوق ته تسليموي.

## اداري او عملياتي مصارف

مخکې له دې چې صندوق د مشتري سره د مرابحې تړون ترسره کړي يو لړ اداري او عملياتي مصارف منځ ته راځي، د مثال په ډول: د تړون اماده کول، د تجارت د ليدلو او ارزيابۍ په موخه د تجارت ساحې ته سفر او ځينې نور مصارف د صندوق په غاړه دي، مګر د تضمين د ثبت، د جايداد قيمت ګذاري او د مالي راپور د ترتيب مصارف د مشتري پر غاړه دي.

## مرابحه کې د ګټې د اندازې ټاکنه

د کرنيزې پرمختيا صندوق د مشتريانو د کاروبار نوعيت، ظرفيت، او خطراتو له ارزيابۍ وروسته خپل د مفاد سلنه د ٦٪ څخه تر ١٥٪ پورې ټاکي.

د مثال په ډول: د بزګرانو اتحاديو ته د جنس اخيستلو وروسته په هغوی د مفاد کچه تر ټولو ښکته ټاکل کيږي.

همدا راز ښځينه متشبثينو ته هم په کمه سلنه مالي تمويل په نظر کې نيول کيږي.

د کرنيزې پرمختيا صندوق
ستاسې د کرنيزې سوداګرۍ ملګرۍ



020 250 48 35
0731 77 77 88
www.adf-af.org
info@adf-af.org
ADFafghanistan



## د مرابحې محصول د ترلاسه کولو شرطونه

۱ مالي تمویل غوښتونکی باید د افغانستان تابعیت ولري.

۲ د مالیې ورکړې پېژندنې شمېره (TIN) ولري.

۳ له اړونده خانګې یا ادارې کاري جواز ولري.

۴ کرنیزه سوداګرۍ کې لږ تر لږه یو کال کاري تجربه ولري.

۵ په غیر قانوني کړنو کې ښکېل نه وي.

۶ کاروبار یې غیر شرعي او غیر قانوني نه وي.

۷ د تیر کال مالی راپورونه ولري.

۸ د تضمین لپاره جایداد ولري.

## د پیسو د بېرته ورکړې پروسه

د پیسـو بېرتـه ورکـړه د مشـتري او صنـدوق ترمنځ د ګډ تفاهـم لـه لارې د کاروبار یا فعالیت ددوران په نظر کې نیولو سره ټاکل کیږي.

کـه چېرتـه د مرابحې تړون د شرکتونو، بزګرانـو ، کوپراتیفونو او یا هم د کرنیزو اتحادیو سره وي نو د پیسـو د ورکړې موده د یو څه مهلت څخه وروسـته په میاشتني، ربعوار او یا هم په یو ځل ټاکل کیږي.

د مثال په ډول:

یو بزګر یو عراده تراکتور ته اړتیا لري چې درې سوه زره (۳۰۰۰۰۰) افغانۍ قیمت لري، خو نوموړي سره دومره پیسې نشته چې ویې پېري، نو یو مالي نهاد ته مراجعه کوي او هغوی ته د یاد تراکتور نوعیت او ماډل په ګوته کوي، مالي نهاد همدا تراکتور اخلي او تر بشپړ ملکیت راوستلو څخه وروسته یې پر بزګر په درې سوه شل زره(۳۲۰۰۰۰) افغانۍ خرڅوي، چې بزګر به دا پیسې په ربعوار، میاشتني او یا هم په یو ځل مالي نهاد ته سپاري.

## صندوق څه ډول مرابحه کوي؟

د مالي تمویل غوښتونکی (مشتري) به صندوق ته غوښتنلیک وړاندې کوي، د غوښتنلیک د ترلاسه کولو څخه وروسته د صندوق لخوا مشتري د کاروبار ارزیابي ترسره کیږي، په کوم کې چې د مشتري د فعالیت جواز، مالي راپورونه او نور اړین اسناد څېړل کیږي.

که چېرې مشتري ټول شرطونه پوره کړای شول، نو په هغه صورت کې صندوق د مشتري د ضرورت وړ اجناس له آزاد بازار څخه پېري او د ملکیت د ترلاسه کولو څخه وروسته یې په مشتري د معلومې ګټې مقابل کې پلوري.

